

# آرگ پانه

دري شپيته ګڼه

www.gmic.gov.af

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: رمضان المبارک ۲۴مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## در سال ۱۴۰۳ به ارزش ۲۹۲ میلیون دالر از طریق دهلیزهای هوایی تجارت صورت گرفته است



۲

## د هیواد په سرو سیمو او ولایتونو کې نوی ۱۴۰۴ شووني کال د یو لړ مراسمو په ترځ کې پیل شو

۵

## وزارت انکشاف دهات قرارداد ساخت بخش دوم سرک واخان بدخشان را امضا کرد



۶

## میزان تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان به‌شکل قابل ملاحظه‌ای کاهش یافته است

۶

## ډاکټر ملاعبدالواسع: اسلامي امارت د ټولو اقشارو د ستونزو حل لپاره هڅه کوي

۶

## اشتراک و سخنرانی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم آغاز سال جدید تعلیمی

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم آغاز سال جدید تعلیمی که از طرف وزارت معارف و با حضور اعضای کابینه و دیگر مسئولین امارت اسلامی افغانستان برگزار گردیده بود، اشتراک و سخنرانی نمود.
معاون اداری ریاست الوزراء نخست از هیأت رهبری وزارت معارف امارت اسلامی افغانستان به خصوص محترم الحاج مولوی سید حبیب الله آغا سرپرست وزارت متذکره به خاطر برگزاری این مراسم با شکوه تقدیر و ابراز امتنان کرد...

۵

## پیش‌رفت پروژه تاپی در افغانستان؛ ۱۰کیلومتر پایپ‌لاین نصب شده است



همایون افغان سخنگوی وزارت معادن و پترولیم می‌گوید که کار ساخت‌وساز پروژه تاپی در افغانستان ۱۰ کیلومتر پیش‌رفت کرده است. سخنگوی این وزارت افزوده که با مساعد شدن شرایط آب و هوایی، روند ساخت‌وساز این پروژه شتاب خواهد یافت.
پروژه تاپی گاز ترکمنستان را به پاکستان و هند از طریق افغانستان منتقل می‌کند و برای افغانستان نیز درآمد سالانه ۴۰۰ میلیون دالر از حق ترانزیت به همراه دارد...

۲

## اسلامي امارت په ۱۴۰۳ لمريز کال کې ۲۵۲ پراختيايي پروژې منظورې کړې دي



د اسلامي امارت د رييس الوزرا اقتصادي معاونيت وايي، چې روان هجري - لمريز کال کې د نيږدې ۷۴ ميلیارده افغانيو په ارزښت ۲۵۲ پروژې منظور شوې دي. د اسلامي امارت د وياند مرستيال، محترم ملا حمدالله فطرت وايي، دغه پروژې د بنسټيزو تاسيساتو،...

۲

## کمیسیون تدارکات ملی ۸ پروژه را به ارزش ۲.۵ میلیارد افغانی منظور کرد

۵

## د یوناما ماموریت د غځېدو په اړه:

له یوناما څخه غواړو لکه څرنګه چې لازمه ده، دغه استازولۍ باید د افغانستان او ملګرو ملتونو او د نورو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په پیاوړتیا، په افغانستان کې د امنیتي، اقتصادي او اجتماعي پرمختګونو په سم انعکاس او د افغانستان د خلکو د نړیوالو حقوقو ترلاسه کولو، د بې ځایه تحریمونو لرې کولو، د پیسو کنګل د پای ته رسولو او په ملګرو ملتونو کې د افغانستان کورسۍ بیرته افغانانوته په سپارلو تمرکز وکړي او همدې مهمو اهدافو ته کار وکړي. دوی باید د تېر په څیر بې ځایه تشویشونه ایجاد نه کړي، له یو یا دو مسئلو څخه په سوء استفادې سره د افغانستان پر وړاندې پروپاګند ونه کړي او د مغرضو کړیو لپاره د لاس آله نشي.#

## د مهاجرینو ستونزو ته د رسیدنې عالي کمیسیون غونډه ترسره شوه

د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې...

۲

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د کان کیندنې ۳۶ پروژې منظور کړې



۲

## په تیرو دریو کلونو کې ۲۷۰ کیلومتره سړک رغول شوی دی



۵

## سال جدید و نقش رسانه‌ها

با رسیدن سال جدید، (از حسن تصادف در بهار دل‌ها رمضان شریف) آسمان دل‌ها از نور امید منور می‌گردد. سال جدید همچون فرصتی نو در پیش روست تا گذشته‌های گذرا را مرور کرده و به سوی افق‌های تازه و روشن قدم برداریم. در این مسیر، رسانه‌ها همچون چراغانی از حقیقت و آگاهی، پل ارتباطی میان مردم، حکومت و جهان هستند که با انتشار اخبار درست و بیان واقعیت‌ها، نقش و رول مهمی در بیداری روح ملت ایفا می‌نمایند.

در زمانه‌ای که اطلاعات و معلومات در جامعه به سرعت پخش و نشر می‌شد، مسئولیت رسانه‌ها تنها در رساندن خبر نیست، بلکه در ترویج صداقت، عدالت و ایجاد گفتگویی سازنده میان اقشار مختلف جامعه مشهود است. رسانه‌ها می‌توانند با بیان حکمت و اندیشه، موجی از وحدت و همبستگی را در دل‌ها برانگیزند و به کاهش تنش‌ها و افزایش درک متقابل کمک شایانی نمایند.

باشد که در سال جدید با تکیه بر اراده راسخ و تعهد به اصول اخلاقی و مسلکی، رسانه‌ها همچون فانوس‌های راه در شب‌های تار، مسیر جامعه را به سوی آینده‌ای روشن‌تر و آبادتر هموار سازند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

سرمقاله

# د خبریال ملي ورځ؛ د بیان ازادۍ او رسنیو د فعالیتونو ملاتړ

خبریالان د هرې ټولنې د رسنیو او د بیان ازادۍ مهم بنسټ ګڼل کېږي. په افغانستان کې د خلکو د خبرولو، پوهاوي لوړولو، د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي واقعیتونو د انعکاس په برخه کې د خبریالانو ونډه اساسي ارزښت لري. له همدې امله، د دوی د نه ستړي کېدونکو هڅو د درناوي په موخه، د کب (حوت) ۲۷ مه د خبریال د ملي ورځې په توګه نومول شوې ده.

د خبریال ملي ورځ نه یوازې دا چې د خبریالانو د زحمتونو ستاینې لپاره یو ارزښتناک فرصت دی، بلکې د هغوی د کار پر وړاندې د شته ننګونو ارزونه او د حل لارو لټول یې بله اساسي موخه ده. په دې وروستیو کې افغان خبریالانو د واقعیتونو د خپرولو، پرمختګونو، ستونزو او فرصتونو د راڅرګندولو لپاره هڅې کړې، څو خلک د خپلې ټولنې له حقیقي وضعیت څخه باخبره وساتي.

په تېرو درېیو کلونو کې، افغان خبریالانو د عامه افکارو په جوړولو، له فساد سره د مبارزې، د حکومتولۍ د اصلاح او د ولس او دولت ترمنځ د واټن په کمولو کې مهم رول لوبولی دی. دوی په خپلو نه ستړي کېدونکو هڅو سره حکومت ته فرصت برابر کړی، ترڅو شته خلاوې ډکې او یو ځواب ویونکی، نظام رامنځته شي.

د افغانستان ازادو خبریالانو ټولنې د معلوماتو له مخې، اوسمهال په ټول هېواد کې ۸۴ تلویزیوني شبکې، ۲۷۴ راډیویي دستګاوې، ۵۷ خبري اژانسونه او ۵۲ چاپي نشریې فعالیت لري، چې په مجموع کې ۲۶۷ رسنۍ جوړوي. له دې ډلې، په مرکز او ولایتونو کې د ۱۲ رسنیو محتوا په ځانګړي توګه ښځو ته وقف شوې ده. همدارنګه، د یادې ټولنې د شمېرو له مخې، دمګړۍ، د هېواد په رسنیو کې په ټولیز ډول ۴۰۰۱ نارینه او ۷۴۷ ښځینه کارکوونکي چې مجموعي شمېر یې ۴۷۴۸ تنه کیږي، په کار بوخت دي.

همداراز، د یادې ټولنې د معلوماتو له مخې، په ۱۴۰۳ لمریز کال کې یو شمېر نویو رسنیو هم فعالیت پیل کړی، چې په کندهار کې احساس غږ راډیو، په ننګرهار کې نارنج راډیو، په خوست کې انګیزه راډیو، په کابل کې سروبي راډیو، په هلمند کې ستا راډیو، په نورستان کې نورستان راډیو، په کابل کې افاق خبري اژانس او په ننګرهار کې اتفاق نوین راډیو پکې شاملې دي.

د یادې ټولنې د ارزونې له مخې، د رسنیو محتوا د تېر کال په پرتله ښه شوې، او ښوونیز او روزنیز اړخ یې پراخ شوی دی. دا پرمختګ د ټولنې د لارښوونې، د خلکو ذهنونو د روښانولو، او د حکومت او رسنیو د ګډو هڅو څرګندونه کوي.

واک ته له رسېدو سره سم، اسلامي امارت د خپل وظیفوي مسئولیت او ټولنیز رسالت د درک پر بنسټ هڅه وکړه، چې له رسنیو سره په بېلابېلو برخو کې د همغږۍ او همکارۍ لاره پرانیزي. همداراز، د رسنیو له مسئولینو سره د ګڼو ناستو په جوړولو یې هغوی ته ډاډ ورکړ، ترڅو د اسلامي اصولو په چوکاټ کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

همدارنګه، په تېرو درې کلونو کې، د خبریالانو لپاره د واقعي اطلاعاتو د لاسرسي اسانتیا په موخه، په ټولو دولتي ادارو کې ویندویان ګمارل شوي. سربېره پردې، ګمارل شوي ویندویانو ته په منظمه توګه روزنیز ورکشاپونه هم دایر شوي، ترڅو د دولتي ادارو او رسنیو ترمنځ د تعامل او همکارۍ کچه لوړه او اغېزناکه شي. دغه اقدامات نه یوازې د دولتي ادارو نشراتي او مطبوعاتي چارې په منظمه او مسلکي توګه تنظیموي، بلکې د هرې ادارې د مهمو فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د عامه پوهاوي کچه هم لوړوي.

همداراز، یو شمېر اړونده ادارو هڅه کړې چې د یوه مهم کاري لومړیتوب په توګه د اطلاع رسونې بهیر لا پیاوړی، چټک او اغېزناکه کړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره، په تېرو درې کلونو کې، ګڼ شمېر خبري ناستې او ځانګړې مرکې تنظیم، خبري کلیپونه ثبت او نشر، نشراتي مواد له رسنیو سره شریک او همدارنګه، په مرکز او ولایتونو کې له خبریالانو او د رسنیو له مسئولینو سره د همغږۍ غونډې ترسره شوي، چې دا لړۍ اوس هم دوام لري.

اسلامي امارت د اسلامي اصولو په چوکاټ کې په هېواد کې د بیان له ازادۍ او د رسنیو له فعالیتونو څخه ملاتړ کړی، تل یې هڅه کړې چې له رسنیو سره د پراخ تعامل او همکارۍ زمینه برابره او واقعي اطلاعاتو ته د خبریالانو د لاسرسي لپاره اسانتیاوې رامنځته کړي. په دې برخه کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د افغانستان اسلامي امارت د ویاند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز او ځینو نورو دولتي ادارو په ۱۴۰۳ هجري لمریز کال کې د ګڼو پروګرامونو په تنظیم او پیلولو سره، د پورتنیو موخو د ترلاسه کولو لپاره پرله پسې هڅې کړي دي.#

**لیکنه: حشمت ناصري**

# در سال ۱۴۰۳ به ارزش ۲۹۲ میلیون دالر از طریق دهلیزهای هوایی...



...وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که در سال ۱۴۰۳ به ارزش ۲۹۲ میلیون دالر امریکایی از طریق دهلیزهای هوایی کشور صادرات و واردات انجام شده است.

عبدالسلام جواد آخندزاده، سخنگوی این وزارت می‌گوید که ارزش صادرات در این سال به ۱۲۵ میلیون دالر و ارزش واردات به ۱۶۷ میلیون دالر می‌رسد.

وی می‌افزاید که اقلام مهم صادراتی کشور را میوه های خشک، زعفران، انجیر خشک و تازه، عناب، جلغوزه سیاه و صنایع دستی تشکیل می‌دهد و اما اقلام عمده وارداتی انواع دواها و وسایل برقی می‌باشد.

سخنگوی وزارت صنعت و تجارت تاکید می‌کند که این صادرات از طریق میدان های هوایی کابل، قندهار و بلخ به کشورهای امریکا، آلمان، چین، هند، بریتانیا، افریقای جنوبی، اتریش، امارات متحده عربی و برخی کشورهای دیگر انجام شده است.

دهلیزهای هوایی یکی از راه های مطمئن برای صادرات افغانستان دانسته می‌شود که به باور آگاهان، با ایجاد آن، اقتصاد و تجارت کشور از گروگان برخی کشورهای همسایه به ویژه پاکستان نجات داده شده است.#

# د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون...

...عالي کمېسیون ناسته وکړه، چې د نوموړي کمېسیون غړو او د ټولو کمېټو مسئولینو پکې ګډون کړی و.

په پیل کې د یاد کمېسیون او دکمیتو کړنې، لاسته راوړنې او فعالیتونه بیان شول او هم د مهاجرینو ستونزو ته د ښې رسېدنې پر لارو چارو خبرې وشوې. ټینګار په دې وشو، چې د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدنې په برخه کې ټولې کمېټې خپل فعالیتونه لا ګړندي کړي؛ ترڅو خدمات چټک شي، په ځانګړي ډول د افغان مهاجرو تجارانو لپاره په کور دننه سهولتونه برابر شي او د پانګونې فرصوتونه ورته رامنځته شي.

همداراز د غونډې په جریان کې پر ګاونډیو هیوادنو غږ وشو، چې د افغان مهاجرینو له جبري او بېړنۍ را ایستنې څخه ډډه وکړي، او د مهاجرینو لپاره دکړیو خدمتونو پای په حسن اختتام سره وکړي او د دواړو هیوادونو په همغږي د یوه ګډ مکانېزم له مخې افغان مهاجرین هیواد ته را ولېږدول شي.

یاد کمېسیون له او آی سي، ملګرو ملتونو، اروپایي ټولنې او نورو نړیوالو بنسټونو او ادارو څخه وغوښتل، چې د افغان مهاجرینو ستونزو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، تر څو د ګاونډیو هیوادونو د چارواکو د عاجلانه او نا عادلانه پرېکړو له امله د افغان مهاجرینو حقوق پایمال نشي او له هغوي سره ظلم زیاتي ونشي.

یاد نړیوال نهادونه باید له کوربه هیوادونو سره د لېږد په سالمې پروسې کار وکړي؛ ترڅو هیواد ته د مهاجرینو راستنېده د ځانګړي مکانېزم له مخې ترسره شي، همدا ډول له نوموړیو ټولنو وغوښتل شول، چې له افغان مهاجرینو سره خپلو لازمو همکاریو ته دوام ورکړي.

د غونډې په پای کې په ډاګه شوه، چې د افغانستان اسلامي امارت د مهاجرینو ستونزو ته د رسېدو په برخه کې جدي اقدامات کړي او په راتلونکې کې به هم هغه امکانات چې په واک کې لري د دوی په چوپړ کې مصرف او مصروف کړي او بشپړه هڅه به وکړي، چې ټول افغانان په خپل کور کې هوسا ژوند ولري.#

# پیش‌رفت پروژه تاپی در افغانستان؛ ۱۰کیلومتر پایپ‌لاین...



...همایون افغان در این باره افزود: تاکنون حدود ۱۷ کیلومتر از سروی مسیر پایپ‌لاین پروژه تاپی تکمیل شده است. همچنین، ۱۱ کیلومتر پایپ‌لاین به محل انتقال یافته، ۱۱ کیلومتر زمین برای تمدید آن هموار شده و ۱۰ کیلومتر پایپ‌لاین جوشکاری و نصب شده است.

سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم هم‌چنان تأکید کرده است که در حال حاضر هیچ چالشی در برابر اجرای پروژه تاپی در افغانستان وجود ندارد و کشورهای دخیل در این پروژه نیز به تکمیل آن در زمان مشخص، متعهد هستند.

گفتنی‌ست که پروژه تاپی یک پروژه واحد نبوده؛ بل چندین پروژه دیگر از جمله انتقال برق ۵۰۰ کیلوولت ترکمنستان که برق ترکمنستان را از طریق افغانستان به پاکستان انتقال می‌دهد، کیبل فایبر نوری و راه‌آهن نیز در امتداد این پایپ‌لاین گاز کشیده می‌شود.#

# اسلامي امارت په ۱۴۰۳ لمريز کال کې ۲۵۲ پراختيايي پروژې منظورې...



...ټرانسپورټ، برېښنا، روغتیا، صنعت، د اوبو مدیریت او د پوهنې په برخو کې دي. محترم فطرت زیاتوي چې د دې پروژو لګښت له کورنیو عوایدو ورکول کیږي، چې زرګونو هېوادوالو ته پکې د مستقیم او غیر مستقیم کار زمینه برابره شوې ده.

د چارو ځینې شنونکي هم د دغه ډول پروژو پلي کول د بېکارۍ کچې د راکمېدو لپاره مهمې ګڼي.#

# د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت د کان کيندنې ۳٦ پروژې...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د هېواد د کانونو د پراختیا او اقتصادي ودې په موخه د کوچني او ستر مقیاس ۳۶ د کان‌کیندنې او استخراج پروژې منظور کړې دي. له دې جملې څخه ۲۵ پروژې د کوچني مقیاس کانونو پورې تړاو لري چې د تراورټین، مرمر، نفرایټ، چونې، سرب، جستو، بیوتیت‌لرونکي ګرانیټ، سرپنټین، ګچ او نورو کانونو د استخراج لپاره په بېلابېلو ولایتونو کې تصویب شوي دي.

همداراز، ۱۱ سترې پروژې د سیمنټو، مالګې، ګازو، ډبرو سکرو، کرومایټو او مرمرو ډبرو د استخراج په موخه منظورې شوې دي، چې له مهمو پروژو څخه یې د جوزجان یتیم تاق سیمنټو، د فاریاب او جوزجان د مالګې کانونه، د لوګر د التمور سیمنټو، او د هرات کشک او تیرپل د ګازو حوزې یادونه کولی شو. دا پروژې به د هېواد په اقتصادي پرمختګ، کاري فرصتونو زیاتوالي او د طبیعي زېرمو مؤثرې استفادې کې مهم رول ولوبوي.#




Issue #63

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af


Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# Afghanistan Reports Significant Decline in Drug Production and Trafficking



...ContP#4

# TAPI Pipeline Progress in Afghanistan: 10 Kilometers Successfully Installed



Homayoon Afghan, the spokesperson for the Ministry of Mines and Petroleum, has announced that the construction of the Turkmenistan-Afghanistan-Pakistan-India (TAPI) pipeline in Afghanistan has advanced by 10 kilometers. He further stated that with the onset of favorable weather conditions, the pace of construction is expected to accelerate significantly.

The TAPI project, a critical regional initiative, facilitates the transportation of natural gas from Turkmenistan to Pakistan and India via Afghanistan. In addition to bolstering regional energy security, the project is poised to generate approximately $400 million in annual transit revenue for Afghanistan.

According to Afghan, approximately 17 kilometers of the pipeline route survey has been completed to date. Furthermore, 11 kilometers of pipeline have been transported to the designated site, 11 kilometers of land have been leveled for pipeline extension, and 10 kilometers of pipeline have been welded and installed.

The Ministry's spokesperson reaffirmed that there are currently no impediments to the execution of the TAPI project within Afghanistan. Moreover, all participating nations remain fully committed to ensuring its timely completion...ContP#4

# $292 Million in Trade Facilitated Through Afghanistan's Air Corridors in 1403



The Ministry of Industry and Commerce has reported that in the year 1403, trade worth $292 million was conducted via Afghanistan's air corridors.

Abdul Salam Jawad Akhundzada, the spokesperson for the Ministry, stated that exports during this period totaled $125 million, while imports reached $167 million.

He further highlighted that Afghanistan's key exports included dried fruits, saffron, dried and fresh figs, jujube, black pine nuts, and handicrafts. The main imports consisted of pharmaceuticals...ContP#4

# Italy Allocates €3.5 Million to Support Afghan Returnees



The International Organization for Migration (IOM) has announced a €3.5 million contribution from Italy to support Afghan returnees.

According to an official statement from the IOM, this financial assistance is designated to provide critical support to Afghan migrants returning from neighboring countries. The organization emphasized the significance of this contribution, particularly in light of the escalating forced repatriation of Afghan nationals from Iran and Pakistan.

The IOM welcomes Italy's €3.5 million contribution, provided through the Italian Agency for Development Cooperation (AICS), to facilitate humanitarian assistance for returning Afghan migrants," the statement read. "This funding is particularly timely, as the number of forced returns from Iran and Pakistan continues to rise. #

# Islamic Emirate Approves 252 Development Projects to Boost Economic Growth



The Economic Office of the Prime Minister's Office of the Islamic Emirate has reported the approval of 252 development projects, with a total value of nearly 74 billion Afghanis, for the current fiscal year.

Hamdullah Fitrat, the Deputy Spokesperson for the Islamic Emirate, stated that these projects span key sectors such as infrastructure, transportation, electricity, healthcare, industry, water management, and education. He further emphasized that the financing for these initiatives is sourced from domestic revenues, which has created both direct and indirect employment opportunities for thousands of citizens. Experts consider the execution of these projects to be a vital step in reducing the unemployment rate. #

# Kabul Municipality Constructs 270 Kilometers of Roads in the Past Three Years



The Kabul Municipality has reported the completion of 270 kilometers of road construction in the capital over the past three years. Since the restoration of the Islamic Emirate, road development, particularly in Kabul, has seen a notable acceleration.

A spokesperson for the Kabul Municipality indicated that more than 270 kilometers of new roads have been built in the capital during this period. Currently, 82 road construction projects are ongoing in Kabul.

Many residents of the capital consider the development of these roads to be a significant contribution to the country's progress. #

## TAPI Pipeline Progress in Afghanistan: 10 Kilometers Successfully...

...It is important to highlight that the TAPI project is not an isolated initiative; rather, it is integrated with several complementary infrastructure projects. These include the construction of a 500-kilovolt power transmission line from Turkmenistan to Pakistan via Afghanistan, the deployment of fiber optic cables, and the development of a railway network along the pipeline corridor. #

## Afghanistan Reports Significant Decline in Drug Production and...



...The Ministry of Interior Affairs has reported a significant reduction in the production and trafficking of illicit drugs across Afghanistan. According to the Ministry's spokesperson, counter-narcotics law enforcement agencies have achieved notable progress in curbing the cultivation, production, and smuggling of narcotics.
Abdul Mateen Qane, the spokesperson for the Ministry, made these remarks in response to a recent report by the United Nations Office on Drugs and Crime (UNODC). He stated: We assure that counter-narcotics police have intensified their efforts to combat drug-related activities more than ever before, and this momentum will continue. #

## $292 Million in Trade Facilitated Through Afghanistan's Air...



...and electrical equipment.
The spokesperson emphasized that these exports were facilitated through the airports in Kabul, Kandahar, and Balkh, with destinations including the United States, Germany, China, India, the United Kingdom, South Africa, Austria, the United Arab Emirates, and other countries.
Air corridors are recognized as a secure and efficient means for Afghanistan's exports, and experts contend that their establishment has significantly liberated the country's economy and trade from the influence of neighboring nations, particularly Pakistan. #

## Economic Deputy of the Prime Minister Approves 36 Mining Projects


The Economic Deputy of the Prime Minister's Office has approved 36 mining and extraction projects for the year 1403 Solar, with the aim of advancing the country's mining sector and fostering economic development.
Of these, 25 projects pertain to small-scale mining, focusing on the extraction of travertine, marble, nephrite, limestone, lead, jasper-bearing granite, serpentine, gypsum, and other minerals across various provinces.
Additionally, 11 large-scale projects have been approved for the extraction of cement, salt, gas, coal, chromite, and marble. Noteworthy among these are the cement project in Jowzjan's Yatim Taq, salt mines in Faryab and Jowzjan, the Al-Tamur cement project in Logar, and the gas fields in the Koshk and Tirpul regions of Herat. These projects are expected to play a crucial role in the country's economic advancement, increase employment opportunities, and ensure the efficient utilization of the nation's natural resources. #


## Meeting of the High Commission for Addressing Migrant Issues Convened



The High Commission for Addressing Migrant Issues convened its latest session yesterday under the chairmanship of Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Administrative Deputy of the Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan. The meeting was attended by commission members and officials from all relevant committees.
The session commenced with a review of the commission's key achievements, ongoing initiatives, and strategic objectives. Discussions centered on enhancing support mechanisms for migrants, with a strong emphasis on expediting committee operations to improve service delivery. Particular attention was given to facilitating Afghan migrant entrepreneurs, fostering investment opportunities within Afghanistan, and creating an enabling business environment for their reintegration.
Furthermore, a formal appeal was made to neighboring countries to refrain from the immediate and forced expulsion of Afghan migrants. The commission underscored the importance of ensuring a dignified and coordinated repatriation process through a mutually agreed-upon framework between the respective governments.
The commission also called upon the Organization of Islamic Cooperation (OIC), the United Nations, the European Union, and other international bodies to accord special attention to the challenges faced by Afghan migrants. It was stressed that their fundamental rights must not be compromised due to abrupt or unjust decisions by host nations, and that they must be safeguarded from any form of mistreatment or injustice.
Additionally, international organizations were urged to collaborate with host countries to implement a structured and humanitarian repatriation process. The commission further appealed for the continuation and expansion of humanitarian assistance to Afghan migrants to mitigate the hardships they face.
In conclusion, the Islamic Emirate of Afghanistan reaffirmed its commitment to addressing migrant-related challenges through concrete measures and strategic interventions. It pledged to mobilize all available resources to support the well-being of Afghan migrants and to facilitate their dignified reintegration, ensuring that all Afghan citizens can lead stable and secure lives within their homeland. #

## National Procurement Commission Approves Eight Projects Worth 2.5 Billion Afghanis






The National Procurement Commission has approved contracts for eight projects, totaling 2.5 billion Afghanis, and made amendments to 13 additional projects.
In a session held at the Marble Palace, 29 projects were presented for discussion, as outlined in the agenda. Of these, eight projects were approved, 13 were amended, two were canceled, and six were rejected due to existing challenges in the procurement process.
Regarding the six rejected projects, the designated committees have been tasked with assessing the contracts in compliance with procurement process regulations and providing their reports to the leadership of the National Procurement Commission.
The approved and amended projects include the completion of protective works and attention to the Dehla Dam in Kandahar, the finalization of outstanding tasks at the Aliabad Cancer Treatment Center at Kabul Medical University, the construction of transport terminals in Daman District and Baghi Pul in Kandahar, the completion of remaining sections of the Kabul-Kandahar Highway, and several other initiatives funded by the Islamic Emirate. #

## په تېرو درېيو کلونو کې ۲۷۰ کيلومتره سړک رغول...



...د کابل ښاروالۍ په تېرو درې کلونو کې په پلازمينه کې د ۲۷۰ کيلومتره په اوږدوالي د سړکونو له جوړولو خبر ورکوي. د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته، په هېواد کې د سړکونو د جوړونې چارې په ځانگړې توگه په کابل ښار کې چټکې شوې دي.
د کابل ښاروالۍ استازی وايي چې په تېرو درې کلونو کې په پلازمېنه کې څه باندې ۲۷۰ کيلومتره نوي سړکونه جوړ شوي دي. اوسمهال هم په پلازمېنه کې د سړک جوړونې پر ۸۲ پروژو کار روان دی.
د پلازمېنې ځينې اوسېدونکي د سړکونو جوړېدل د هېواد د پرمختگ لپاره گټور گڼي.#

## کمیسیون تدارکات ملی ۸ پروژه را به ارزش ۲.۵ میلیارد...





...کمیسیون تدارکات ملی قراردادهای هشت پروژه را به ارزش ۲.۵ میلیارد افغانی منظور و ۱۳ پروژه دیگر را تعدیل کرد.
در جلسه نوبتی کمیسیون تدارکات ملی که در قصر مرمرین تدویر یافت، مطابق اجندا ۲۹ پروژه جهت بحث ارائه شد که از جمله آن هشت پروژه منظور، ۱۳ تعدیل، دو لغو و شش پروژه بخاطر مشکلات موجود در پروسه تدارکاتی، رد گردید.
در رابطه به شش پروژه متذکره به کمیته های موظف وظیفه سپرده شد تا با توجه به اصول پروسه های تدارکاتی، قراردادهای آنان را ارزیابی نموده و گزارش آن را به رهبری کمیسیون تدارکات ملی شریک سازند. در پروژه های منظور و تعدیل شده، تکمیل امور حفاظت و توجه به بند دهله ولایت قندهار، تکمیل کار باقیمانده مرکز درمان امراض سرطانی شفاخانه علی آباد پوهنتون طبی کابل، اعمار ترمینال های ترانسپورتی در ولسوالی دامان و منطقه باغ پل ولایت قندهار، تکمیل بخش های باقیمانده شاهراه کابل - قندهار و شمار دیگری از پروژه ها شامل اند که از سوی امارت اسلامی تمویل می شوند.#

## په روان لمریز کال کې له کندهاره ۴۴۷ میلیون ډالره صادرات شوي







سږ کال له کندهاره بهرنيو هېوادونو ته د څه باندې ۴۴۷ میلیونه ډالرو په ارزښت ۴۲۱ زره ټنه صادرات شوي دي.
د کندهار د سوداگرۍ او پانگونې خونې مسئولين وايي، د تېرو (۱۱) مياشتو په ترڅ کې يې له کندهاره پاکستان، هند، چين، امريکا، متحده عربي اماراتو، سويډن، ايران، ترکيې او جرمني ته د ۴۴۷ ميليونه او ۱۶۳ زره امريکايي ډالرو په ارزښت ۴۲۱ زره ۷۵۸ ټنه د وچې او تازه مېوې په گډون، حبوبات، حيواني او کرنيز محصولات، سبزيجات او کاني توکي صادر کړي دي.
د کندهار د سوداگرۍ او پانگونې خونې مسئولين وايي، دا مهال د پاکستان ترڅنگ د منځنۍ اسيا له يو شمېر نورو هېوادونو سره هم سوداگريزې اړيکې د پراخېدو په حال کې دي.#

## د هېواد په سړو سيمو او ولايتونو کې نوی ۱۴۰۴ ښوونيز کال د يو لړ مراسمو...

...د هېواد په سړو سيمو او ولايتونو کې نوی ۱۴۰۴ ښوونيز کال د يو لړ هغو مراسمو په ترڅ کې پيل شو، چې پکې د پوهنې وزارت مشرتابه پلاوی او رئيسانو، د رياست الوزرا اداری مرستيال، د چارو ادارې لوی رئيس، د ازموينو ملي ادارې لوی رئيس، د کابينې يو شمېر غړو او د بېلابېلو ادارو استازو حضور درلود.
په دغه مراسمو کې د پوهنې وزارت سرپرست په خپلو خبرو کې، د هېواد په پرمختگ کې د ديني علومو ترڅنگ پر عصري علومو ټينگار وکړ او د اسلامي امارت په تړاو يې د غربي نړۍ ټول منفي تبليغات بې بنسټه وبلل او زياته يې کړه، چې د افغانستان اسلامي امارت د شريعت په چوکاټ کې د هېواد په هر اړخيز پرمختگ کې د ديني او عصري علوم نقش تر ټولو مهم او اساسي عنصر گڼي.
همدارنگه د رياست الوزرا ا اداري مرستيال په دغه مراسمو کې مسئولينو او زده کوونکو ته د نوي ښوونيز کال مبارکي ووېله، له مدرسينو او ښوونکو يې وغوښتل چې راتلونکي نسلونه په اسلامي او ملي روحيې سره وروزي.
په ورته وخت کې د چارو ادارې لوی رئيس او د ازموينو ملي ادارې لوی رئيس هر يو په جلا جلا توگه د ټولنې په پرمختگ او د هېواد بچيانو د سالمې روزنې په برخه کې د ديني او عصري زده کړو اهميت ته په اشارې سره څرگنده کړه، چې د پوهنې وزارت د ټولو هېوادوالو لپاره د متوازنو ښوونيزو خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی او د هېواد د ښوونيز نظام د ودې او بډاينې په برخه کې يې پر خپلو هڅو ټينگار وکړ. ياد مراسم دعائيې په لوستلو سره پای ته ورسېدل.#

## د افغانستان په کانونو کې پانگونې ته د قزاقستاني سوداگرو لېوالتيا

قزاقستاني ډيپلوماتان وايي، د دغه هېواد پانگوال په افغانستان کې د کانونو په برخه کې پانگونې ته لېواله دي. د افغانستان کانونو په ځانگړې توگه د هېواد نفتي کانونو، په وروستيو مياشتو کې پر دغو کانونو د پانگونې لپاره د ځينو سيمه ييزو او گاونډيو هېوادونو پام راخپل کړی دی.
په دې وروستيو کې، په کابل کې يو شمېر قزاقستاني ډيپلوماتانو د کانونو او پټروليم وزارت له سرپرست محترم الحاج ملا هدايت الله بدري سره په کتنه کې ويلي، د دغه هېواد پانگوال غواړي د افغانستان د نفتو، گازو، سرب او جست پر کانونو پانگونه وکړي.
د کانونو او پټروليم وزارت وياند، همايون افغان هم وايي: په دغه کتنه کې د دواړخيزو اړيکو او د افغانستان د کانونو په برخه کې د پانگونې فرصتونو په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه. د قزاقستان ډيپلوماټانو د دغه هېواد د سوداگرو د علاقې خبر ورکړ، چې غواړي د افغانستان د کانونو په برخه کې پانگونه وکړي. هغوی زياته کړه چې ټاکل شوې ده د راتلونکي اپريل په مياشت کې د قزاقستان څو تخنيکي ډلې د لا زياتو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره افغانستان ته سفر وکړي.
له دې سره هم‌مهاله، د اقتصادي چارو ځينې شنونکي د تيلو او گازو د کانونو په گډون د هېواد پر بېلابېلو کانونو د بهرنيو سوداگرو پانگونه د خلکو لپاره د کارموندنې او د افغانستان د اقتصادي پرمختگ لپاره مهمه گڼي.
د شمېرو له‌مخې، اوسمهال افغانستان د تېلو له اړخه يوازې خپله لس سلنه اړتيا د قشقري له سرچينو پوره کوي او خپل نور د اړتيا وړ تېل له ايران، ترکمنستان، اوزبېکستان او روسيې پېري.#





## اشتراک و سخنرانی معاون اداری ریاست الوزراء در مراسم آغاز...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی گفت: امروز جای نهایت خرسندی است که سال جدید تعلیمی را برای شاگرادن و اطفال عزیز ملت افغانستان شروع می کنیم.
وی آغاز سال جدید را به همهٔ متعلمین و شاگردان، والدین گرامی شان، استادان عزیز، همهٔ مسئولین وزارت معارف و تمامی مردم افغانستان تبریک عرض نمود و برای همه شاگردان، استادان و دست اندرکاران معارف از بارگاه باری تعالی موفقیت و کامیابی استدعا کرد.
معاون اداری ریاست الوزراء خطاب به متعلمین، گفت که از وقت خود بهترین استفاده را برای فراگیری علم و دانش ببرید و از ضایع نمودن وقت و فرصت خود پرهیز کنید تا بتوانید در آینده، مصدر خدمت برای ملت عزیز افغانستان و وطن رنجدیدهٔ ما قرار بگیرید.
موصوف خطاب به استادان، افزود که این مسئولیت بزرگ و مکلفیت اسلامی برعهده شما است تا با امانتداری، فرزندان ملت افغانستان را با روحیه اسلامی و وطندوستی تعلیم بدهید تا آنان در آینده بتوانند به وطن و مردم خود خدمت کنند.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی در سخنان خود، مسئولین و دست اندرکاران وزارت معارف را مخاطب قرار داد و خاطر نشان کرد که برای ایجاد یک سیستم با کیفیت و پاسخگو برای نیازهای تعلیمی فرزندان این کشور، بر مسئولین و منسوبین وزارت معارف لازم است تا جهت بهبود کیفیت و کمیت معارف اعم از تدوین نصاب تعلیمی، استخدام اساتید لایق، تهیه لابراتوارها و سایر لوازم درسی، ارتقای ظرفیت استادان عزیز و مسائل مربوط به سواد آموزی، نظارت از جریان دروس و بالا بردن کیفیت دروس دینی و عمومی تلاشهای جدی نمایند.
معاون اداری ریاست الوزراء همچنان تصریح کرد: عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی، مقام ریاست الوزراء، کابینه و همهٔ مسئولین امارتی برای ساختن یک معارف متعالی و برای گسترش تعلیم و تربیه به همهٔ نقاط افغانستان خصوصاً نقاط دوردست متعهد می باشند و هرچه در توان امارت اسلامی باشد برای تعلیم و تربیه افراد وطن به کار می گیرد. محترم مولوی عبدالسلام حنفی در اخیر سخنانش ابراز امیدواری کرد که افغانستان رنجدیده دارای یک معارف متعالی، مترقی که جوابگوی همه نیازهای تعلیمی مردم افغانستان باشد داشته باشد و به خاطر تحقق این هدف، آرزوی موفقیت و کامیابی همه منسوبین معارف و اساتید عزیز را داریم.
گفتنی است که هم اکنون امارت اسلامی با داشتن نزدیک به چهار صدهزار کارمند و ۱۰ میلیون متعلم در چهل و چهار هزار مدرسه و مکتب که توسط دو صد و پنجاه هزار استاد تدریس می شوند، مصروف خدمت به اولاد وطن میباشد.#

## ایران مصمم به همکاری در پروژه‌های توسعه آب و انرژی با افغانستان است

وزارت آب و انرژی می‌گوید که ایران مصمم به همکاری در اجرای پروژه‌های توسعه آب و انرژی با افغانستان است.
این اظهارات را علی رضا بیکدلی، سرپرست سفارت ایران در کابل طی دیداری با سرپرست وزارت آب و انرژی مطرح کرده است. هر دو طرف در این دیدار همچنان ضمن تاکید بر توسعه و گسترش همکاری‌ها میان کابل و تهران، پیرامون مسائل کمبود آب و خشکسالی‌ها نیز گفتگو کرده‌اند.
سرپرست وزارت آب و انرژی افزوده که زمینه برای سرمایه‌گذاری در افغانستان فراهم شده و امارت اسلامی از همکاری‌های انکشافی و اقتصادی با کشورهای همسایه استقبال می‌کند.
در همین حال، اعضای بخش خصوصی نیز گفته‌اند که روابط اقتصادی با ایران قابل گسترش است و این می‌تواند برای ثبات اقتصادی دو کشور مهم باشد.#

## وزارت اقتصاد: در سال ۱۴۰۳ برای ۱۳۴ نهاد داخلی و خارجی مجوز فعالیت صادر شد

وزارت اقتصاد اعلام کرده است که در سال ۱۴۰۳ هجری شمسی برای ۵ نهاد خارجی و ۱۲۹ نهاد داخلی مجوز فعالیت صادر شده است.
به گفتهی این وزارت، این نهادها در بخشهای مختلفی چون مصونیت اجتماعی، بهداشت، آموزش، زراعت، مالداری و پروژههای مبارزه با حوادث طبیعی فعالیت میکنند.
عبدالرحمن حبیب سخنگوی وزارت اقتصاد می افزاید: در جریان سال ۱۴۰۳، ۵ نهاد خارجی و ۱۲۹ نهاد داخلی از سوی وزارت اقتصاد جواز فعالیت دریافت کردهاند.
برخی آگاهان مسایل اقتصادی فعالیت این نهادها را در بهبود وضعیت انسانی، کمکرسانی و ایجاد فرصتهای شغلی در کشور مؤثر و ضروری میدانند.
بر اساس آمار وزارت اقتصاد، در حال حاضر حدود ۲۶۰۸ نهاد غیردولتی در افغانستان فعالیت دارد که ۲۸۰ آن نهادهای خارجی می باشند.#

د افغانستان اسلامي امارت
د رياست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي رياست
د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

ارگ پاڼه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# مجاهد: د امريکايي پلاوي سفر به د واشنګټن د نوي حکومت انديښنې ځواب کړي

د افغانستان اسلامي امارت وياند محترم مولوي ذبيحالله مجاهد افغانستان ته د امريکايي پلاوي د سفر په تړاو وايي، د کابل او واشنګټن د استازو ترمنځ غونډه د دواړو خواوو غوښتنو ته د رسېدنې لپاره ډېر ارزښت لري.

نوموړي زياته کړه چې دا ډول غونډه کولای شي د دواړو لوريو ترمنځ باور پياوړی کړي او ګواښونه او ننګونې راکمې کړي.

د اسلامي امارت وياند، محترم مولوي ذبيح الله مجاهد په دې اړه داسې وايي: په امريکا کې يو نوی بدلون راغلی، حکومت يې نوی شوی دی. بايد د افغانستان اراده هغوی ته وښودل شي او هغوی ته دا وروښودل شي چې افغانستان څه ډول تګ لاره لري او څه ډول اړيکې غواړي ولري. کېدای شي دا غونډې ګټورې تمامې شي او د امريکا نوې ادارې انديښنې له منځه ولاړې شي.

د اسلامي امارت وياند ټينګار وکړ چې له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان اړيکې پراخې شوې دي، خو د نورو هېوادونو له لوري د اسلامي امارت په رسميت نه پېژندل يو قصدي عمل دی.#

# ميزان توليد و قاچاق مواد مخدر در افغانستان به‌شکل قابل ملاحظه‌ای...



...سخنگوی وزارت امور داخله می‌گوید که میزان تولید و قاچاق مواد مخدر در افغانستان «به‌شکل قابل ملاحظه‌ای» کاهش یافته و نیروهای پولیس مبارزه با مواد مخدر در جلوگیری از کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر «دستاوردهای مهمی» داشته‌اند.

عبدالمتین قانع سخنگوی وزارت امور داخله این اظهارات را در واکنش به گزارش تازه دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد بیان کرده و افزوده است: ما اطمینان می‌دهیم که پولیس مبارزه با مواد مخدر فعالیت‌های شان را در امر مبارزه با مواد مخدر بیشتر از پیش شدت بخشیده است و این روند همچنان ادامه خواهد داشت.#

# وزارت انکشاف دهات قرارداد ساخت بخش دوم سرک واخان بدخشان...



...وزارت احیا و انکشاف دهات می‌گوید که کار بخش دوم سرک واخان بدخشان را با یک شرکت خصوصی به امضا رسانده است.

محترم الحاج ملا محمد یونس آخندزاده، سرپرست این وزارت در مراسمی در کابل گفت که این سرک از نگاه اقتصادی برای افغانستان از اهمیت ویژه برخوردار است و با تکمیل شدن آن افغانستان به کشور چین وصل خواهد شد. به گفته سرپرست این وزارت، این قرارداد شامل ساخت ۷۱ کیلومتر سرک است.

موصوف هنگام امضای این قرارداد گفت که قرار است تا پایان سال آینده خورشیدی جغل‌اندازی ۷۱ کیلومتر کار باقی مانده آن به ارزش ۱۴۳ میلیون افغانی تکمیل شود. وی همچنان تأکید کرد که با گرم‌شدن هوا کار عملی آن آغاز خواهد شد.

در همین حال، مسئولان شرکت قراردادی نیز در این مراسم از تکمیل کار ساخت این سرک در وقت تعیین شده اطمینان دادند.

سرک واخان ۱۲۱ کیلومتر طول دارد که کار فاز اول آن سال گذشته در پامیر کوچک آغاز شد و حالا تنها کار ساختمانی آن باقی مانده که در سال پیش رو تکمیل خواهد شد.#

# ایتالیا ۳.۵ میلیون یورو برای حمایت از مهاجران افغان اختصاص داد



سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM) از کمک ۳.۵ میلیون یورویی ایتالیا به مهاجران در افغانستان خبر داده است.

این سازمان در خبرنامه‌ای هدف از این کمک را پشتیبانی از مهاجران برگشته از کشورهای همسایه عنوان کرده و افزوده است که این کمک مالی در زمانی که بازگشت اجباری مهاجران افغان از ایران و پاکستان در حال افزایش است، حیاتی است. سازمان بین‌المللی مهاجرت گفته است: آی‌اوام از کمک ۳.۵ میلیون یورویی ایتالیا، که از طریق نهاد ایتالیایی همکاری‌های توسعه‌ای (AICS) ارایه شده است، برای پشتیبانی از کمک‌های بشردوستانه پس از ورود مهاجران بازگشته به افغانستان استقبال می‌کند. این بودجه در زمانی حیاتی ارایه می‌شود، زیرا بازگشت اجباری مهاجران افغان از ایران و پاکستان همچنان در حال افزایش است.#

# کندز ولايت کې د سوداګريزي پروژې پرانيسته وشوه




کندز ولايت کې د سپين زر اماراتي شرکت لخوا د سوداګريز کمپلېکس جوړولو د پروژې د پرانيستې مراسم ترسره شول.

په پرانيست غونډه کې د اماراتي شرکتونو د لوی رياست رئيس محترم مولوي احمد جان بلال، د کندز سپين زر اماراتي شرکت د پراختيا او سوداګرۍ رئيس ښاغلي مولوي عبدالغفور شهيد زوی، ولايتي مسئولينو، قومي مشرانو، سوداګرو او ولسي خلکو ګډون درلود.

غونډې ته د خپلې وينا په ترڅ کې محترم مولوي احمد جان بلال د مبارزې په ډګر کې د کندز د خلکو مېړانه وستايله او زياته يې کړه چې دې ولايت کې د صنعتي او زراعتي پارکونو د جوړولو لپاره اغېزکې هڅې رواني او په اړه يې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی مقام ته وړانديزونه شوي.

نوموړي د سوداګريز کمپلېکس د جوړولو د چارو پيل د اماراتي شرکتونو د لوی رياست مهمه لاسته راوړنه وبلله او د هيواد په اقتصادي ښېرازۍ کې يې د يادې او دې ته ورته پروژو په اغېزمنتيا ټينګار وکړ.

محترم بلال زياته کړه چې د هيواد په نورو ولايتونو کې هم د اماراتي شرکتونو لخوا بېلابېلې پروژې د کار او پلان لاندې دي چې په بشپړېدو سره به يې په لويه کې اقتصادي او سوداګريز وضعيت کې خورا مثبت بدلون رامنځته شي.

غونډې ته د کندز سپين زر اماراتي شرکت د رئيس په ګډون ولايتي چارواکو او سوداګرو هم خبرې وکړې او د پروژې په څرنګوالي او ګټو وغږېدل.#

# د کابل – جلال آباد لويي لارې د دويم لين سړک د اساسي رغوني چارې په چټکۍ سره جريان لري



د کابل – جلال آباد د لويې لارې دويم لين سړک چې شاوخوا ۱۴۷ کيلومتره اوږدوالی لري او له دې يې د ۶۵ کيلومتره سړک ۳۳ کيلومتره د ننګرهار ولايت له لوري او ۳۲ کيلومتره نور يې د کابل ولايت له لوري له وړاندې په کانکريټي ډول رغول شوی و او پاتې نور يې په درې بېلابېلو سکشنونو تقسيم شوی چې لومړی سکشن يې ۲۲ کيلومتره اوږدوالی لري او دامهال يې رغنيزې چارې د ننګرهار ولايت له لوري په څو برخو کې جريان لري او د پاتې برخو د سروې او ډيزاين چارې يې هم رواني دي، چې د سړک جوړونې شرکتونو سره د ټولګټو وزارت خبرې جريان لري او له قرارداد وروسته به يې عملي چارې پيل شي.

دغه سړک د هېواد د داخلي اتصال او ځمکني ترانسپورټ په برخه کې هغه مهمه پروژه ده، چې دوه ستر تجارتي او ستراتيژيک ولايتونه کابل او ننګرهار په کمه فاصله کې يو له بل سره نښلوي چې په رغېدو سره به يې د يادې لويې لارې پر لومړي لين سړک ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافيکي پېښو کچه به راټيټه شي. د يادونې وړده، چې د يادې پروژې د کار د ځنډېدو په هکله د ځينو مغرضو رسنيو ادعاوې بې بنسټه او يوازې د عامه اذهانو مخشوشول دي.#

# ډاکټر ملاعبدالواسع: اسلامي امارت د ټولو اقشارو د ستونزو...

...د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع د کابل ښار د سوداګرو او کسبګرو د ملاتړ ټولنې رئيس او غړو سره وکتل.

په دې ليدنه کې، لومړی د کابل ښار د سوداګرو او کسبګرو د ملاتړ ټولنې د حقوقي ستونزو د حل رئيس محترم حاجي طاهر نوري او ملي سوداګر محترم حفيظ احمد فضلي د يادې ټولنې د فعاليتونو په اړه خبرې وکړې او په مختلفو برخو کې يې خپلې ستونزې او وړانديزونه د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس سره شريک کړل. د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئيس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع هغوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، اسلامي امارت د ټولنې د ټولو اقشارو د ستونزو حل لپاره هڅه کوي او مطرح شوې ستونزې او وړانديزونه به د حل په موخه له اړوندو مراجعو سره شريک کړي.#

# د امنيتي او تصفيوي چارو مرکزي کمېسيون مسئول د کندهار ولايت له امنيتي کمېسيون سره ناسته ترسره کړه

د امنيتي او تصفيوي چارو مرکزي کمېسيون مسئول او د ملي دفاع سرپرست وزير محترم مولوي محمد يعقوب مجاهد په مشرۍ کندهار ولايت کې د ياد کمېسيون ناسته په داسې حال کې ترسره شوه چې د کورنيو چارو وزارت امنيتي مرستيال محترم ملا محمد ابراهيم صدر، د مشرتابه د دفتر استازي محترم مولوي نذير احمد ناصر او د کندهار والي محترم ملا محمد شيرين اخوند په شمول د کمېسيون ټولو غړو ګډون درلود. غونډه کې د امنيتي چارو په لا پياوړتيا، په تصفيوي بهير کې په دقت او روڼتيا، د نشه‌يي توکو پر ضد مبارزې، د جرمونو پر وړاندې د کوټلو ګامونو پورته کولو او د پولو د خونديتوب په اړه هر اړخيز بحث او د يادو موضوعاتو د لا ښه تطبيق لپاره لازمې پرېکړې وشوې.#